مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالکبیر حساس

۲۰۲۱/۱۱/۲۲

# استاد فیض "جلال" ته ځوابیه لیک

**په دې هیله چې پر ما د تعصب ټاپه ونه وهی!**

**ښاغلیه!**

کله چې په لومړي ځل زما په شمول ګڼ شمېر ځوانان له پښتون مېشتو ولایتونو څخه د کابل پر لور ډېر په ویاړ سره راغلو او داسې فکر مو کاوه چې ګواکې د هېواد په کچه لوړ پوهنتون کې به زده کړې وکړو او د ټولنې رنځ به دوا کړای شو. خو چې څنګه پوهنتون ته ننوتلو او په لومړي ځل مو ټولګي کې ګډون وکړ، ومو لیدل چې زموږ په مورنۍ ژبه(پښتو) باندې یو کتاب او چپټر هم نشته، په داسې حال کې چې دا د هېواد لومړۍ ملي او رسمي ژبه ده، له استاد څخه به مو چې په پښتو ژبه پوښتنه وکړه، سمدستي به یې وویل: مسلماني ګپ بزن. د څنګ له ملګري مې پوښتنه وکړه چې استاد څه وویل؟ هغه راته وویل چې استاد وویل په مسلمانۍ ژبه وغږېږه یعنې دري وواېه، زړه کې مې اور بل شو، دا څه اورم؟ دا لا یو دري ژبې پروفیسور دی او له پښتو ژبې څخه دومره کرکه کوي.

ښاغلی جلال؛ په یاد مو دي چې تاسو د دري ژبو استادانو یوه کړۍ جوړه کړې وه، هغه پښتانه زده کړیالان به په نښه کول چې کادري نمرې به یې پوره کړې وې، چې کوم دري ژبي استاد سره به برابر شو داسې نمرې به یې ورکړې وې چې د هغه زده کړیال له پارچې او لیاقت سره به یې ځمکه او اسمان توپیر درلود، استاده په یا دې دي چې زما نمرې مو کمې کړې وې، خو چې کله دربانډې عارض شوم، ډېر فشار دې راباندې راوړ چې پارچه را ونه باسم، خو بیا د استادانو کمېټه کې زما له پارچې ثابته شوه چې ۲۵ نمرې مو کمې راکړې او بیا مو په هغه کمېټه کې په ډېرې سپین سترګۍ سره ویلي وو چې: او افغان متعصب است چرا به پشتو پارچه حل میکند؟ مه پشتو را نمی فهمم.

استاده یاد دې دي چې د پښتون مېشتو سیمو زده کړیالانو ته به مو ویل چې که اوس سل کسان هم په ټولګي کې یاست بل سمېستر کې مو شمېر لسو او پنځو ته راکموم.

که یاد دې شي چې یو کندهارۍ یتیم زده کړیال دې ډراپ کړی و، د بل سمېستر په پیل کې دې ټولګي کې په خندا وویل: له خونده مې ډراپ کړ.

استاده یاد دې شي چې ماته دې ویل: په ما دې عریضه کړې، بل سمېستر کې به راسره برابر شې، که برابر هم نه شې په بل استاد هم چانس درکوم، خو شکر چې ستا غوندې د متعصبو استادانو له کړۍ څخه زه وار له مخه خبر وم او داسې تیارې به مې درس ته نیوه چې متعصب استادان به مې ټولګي کې له شتون څخه په عذاب وو، چانسول خو لا لرې خبره وه.

ستا په خبر د وحشت او هوس وږي لیوان استادان د نجونو د پاک لمنې غله نه وو، تاسو به تل د خپل هوس سپیان نه وئ، که ربښتیا وواېې څو ځله په دغو کارونو کې رټل شوی یې؟

لنډه دا چې تا او ستا په خبر ډېرو د تعصب په چټلیو باندې لړلو پروفیسورانو او استادانو دا شل کاله د پښتون او پښتو ژبې په ځپلو کې له هېڅ ډول ناوړه کړنو دریغ ونه کړ، همدا د تاسو پر وړاندې پښتانه ځوانان په پوهنتونو او ادارو کې د ژبژغورنې غورځنګ تر چتر لاندې د ښاغلي ابوبکر ځلاند په مشرۍ د پښتو ژبې د ژغورنې او بداینې مبارزې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

ته راووتل، دا ځوانان ستاسو د يو انده دري ژبو له لوري له دندو وشړل شول، ووهل شول، تېيان شول او ان په شهادت ورسېدل.

نن چي ستاسو په اند هغي د دوزخ ژبې ته رب(ج) عزت ور په برخه کړ، د افغانستان دولتي ژبه وګرځېده او ټول احکام پري ليکل کېږي، تاته ولي زور درکوي، په دې ژبه ۷۵ سلنه پښتانه او څو سلنه نور کوچني قامونه پوهېږي، دا نو ستا خپله ستونزه ده چي په بهرنۍ ژبه انګلېسي باندې خبري کولای شي خو پښتو ته دي ملا ماته ده، حق خو دا کېږي چي اوس کله تاسو دري ژبه ووايئ او پښتانه ځواب درکړي چي: په مسلمانی خبرې وکړه، يعني پښتو ووايه. ستا احساس به څه وي؟ هغه خبره به درباندې څنګه ولګېږي چي شل کاله دي مونږ ته زمزمه کوله.

د ا.ا.ا له چارواکو څخه په درنښت هيله کوو چي د ملي او رسمي ژبې له تعريف سره سم دې پښتو ژبې ته لومړيتوب ورکړي او د داسي متعصبو کسانو خولي دې وتړي تر څو په راتلونکي کې داسي ناوړه الفاظ تري را بهر نه شي.

په خورا درنښت

ستاسو کوچنی ورور

استاد عبدالکبير "حساس"


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ